السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ

له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ». «اسلام په پنځو شيانو ولاړ دی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول او بنده دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د بيت الله حج کول، او د رمضان روژه نيول».

[صحيح] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم اسلام له يوې پياوړې او غښتلې ودانۍ سره تشبيه ورکړه، د هغو پنځو رکنونو له امله چې دا ودانۍ يې پورته کړې ده، او د اسلام نورې پاتې ځانګړتياوې لکه د ودانۍ بشپړوونکي دي. او د دغو رکنونو لومړی يو يې: دوه ګواهيانې ورکول دي؛ يوه دا چې له الله جل جلاله پرته بل په حقه معبود نشته او دا چې محمد د الله جل جلاله رسول دی، او دا دواړه يو رکن دی؛ چې يو له بل څخه نه جلا کيږي، بنده په دواړو ګواهيانو کې په خوله اقرار کوي پداسې حال کې چې د الله جل جلاله په يووالي ګواهي ورکوي او پدې چې هغه يوازې د عبادت مستحق دی، او د دې ګواهۍ په غوښتنه عمل کوي، بل دا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په رسالت ايمان لري او پيروي يې کوي. او دويم رکن: د لمانځه ادا کول دي، چې هغه په شپه او ورځ کې پنځه وخته فرض لمونځونه ادا کول دي له شرطونو، رکنونو او واجباتو سره، يعنې: سهار، ماسپښين، مازديګر، ماښام او د ماخوستن لمونځونه. او دريم رکن: په هر هغه مال کې د فرض زکات ادا کول دي چې په شريعت کې ټاکلې اندازې ته رسيدلی وي، د زکات ورکول يو واجب مالي عمل دی، چې مستحقو کسانو ته ورکول کيږي. او څلورم رکن حج دی چې مکې مکرمې ته د مناسکو د پر ځای کولو لپاره د الله تعالى د عبادت په نيت د تللو قصد کول دي. او پنځم رکن د رمضان روژه ده چې له سهار راختلو څخه تر لمر لوېدو پورې د الله جل جلاله د عبادت په نيت له خوراک، څښاک او داسې نورو روژه ماتوونکو شيانو څخه ډډه کول دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65000

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee